د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۱

نېټه: ۱۴۴۴/۱/۹ هق

☐ عاجل ☐ عادي ☐ اطمیناني ☐ ابلاغیه ☐ ساير

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۳/۷/۱۶ هق د ستري محکمې عالي شورا داسې هدايت وکړ: (دارالانشا رياست دې د کابل د استيناف محکمې څخه د مثنى ورکولو د څکني تـرتيب او طريقې په باره کې تحريري معلومات راوغواړي، تر څو معلومه شي چې کوم اصول قابل عمل او کوم د ليرې کولو دي، تر دغه وروسته به د مثنى ورکولو اصول او طريقه تعين کړو) د هدايت سره سم د موضوع په اړه د کابل ولايت استيناف محکمې څخه معلومات وغوښتل شوه، نوموړې محکمې د مکتوب نمبر(۹۱۰۲)مورخ۱۴۴۳/۷/۲۸هق په توسط معلومات راليږلي چې معلومات د عالي شورا په مجلس مورخ۱۴۴۳/۱۰/۱۸هق کې مطرح شول او د تصويب نمبر(۵۲)په اساس عالي شورا داسې هدايت وکړ:

((د دغه موضوع د پوره تحقيق لپاره دې د راتلونکي يکشنبې په ورځ مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۲هق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د جوزا د مياشتې د لومړۍ نيټې سره سمون خوري محترم شيخ محمدقاسم صاحب، محترم شيخ عبدالمالک صاحب، محترم شيخ محمد شريف صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد سعيد صاحب، د کابل ولايت استيناف محکمې ته او د هغه څخه وروسته مخزن ته دې ورسي د مثنى ورکولو په باره کې دې تفصيلي معلومات واخلي او له ځان سره دې وليکي تر هغه وروسته به د عالي شورا په مجلس کې خبره پر وکړو.))

د پورته ذکر شوي هدايت مطابق فوق الذکر هيئت د کابل ولايت استيناف محکمې ته او د هغه څخه وروسته مخزن ته ورغلی د مثنى ورکولو په باره کې تفصيلي شفاهي او تحريري معلومات راټول کړي له هغه وروسته موضوع د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۹هق کې مطرح شوه او د تصويب نمبر(۵۶)په اساس عالي شورا داسې هدايت وکړ:

((د مثنى اخيستلو مقرره دې د ستري محکمې د قضائي معاون محترم شيخ محمد قاسم صاحب په مشرۍ، مفتي حزب الله «ابراهيمي» صاحب، د تعليمات قضائي رياست عضو قاضي مدثر صاحب، د ستري محکمې د مدني ديوان څخه يو نفر، مفتي عبدالرشيد «سعيد» صاحب او د کابل ولايت د استيناف محکمې د مخزن آمر حبيب الرحمن «قريشي» ته وسپارل شي.))

د ستري محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي هداياتو مطابق، د مثنى اخيستلو مقرره په (۱۶) مادو کې ترتيب او د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۹هق کې مطرح شوه چې د تصويب نمبر(۵۹) مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۹هق په توسط، عالي شورا داسې هدايت وکړ:

((د مثنى اخيستلو مقرره په (۱۶) مادو کې تصويب شوه دارالانشاء عمومي رياست دې ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))

بناءً د مثنى اخيستلو مقرره چې د عالي شورا د پورته ذکر شوي تصويب په اساس تائيد شوي، د دې متحدالمآل مل په(۲)ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت تميزونو ، ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئيس

ستره محکمه
رياست عمومي دارالانشا

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان

تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸

پست بکس: ۱۹۸۹

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af

Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸

Post box: ۱۹۸۹

Website: www.supremecourt.gov.af

secretarlat@supremecourt.gov.af